مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۲/۰۸/۰۴

# غـــزل

زه یې غواړمه رودونه، ته یې غواړه ځو ګوټ جامه
زه یې غواړمه له خدایه ته یې غواړه له خپل رامه

روښنايي روانه غلې، د اسمان توري سینې نه
چې تیاره ده زوروه، که د دوی اړیکه خامه

راشه واخله ځلاکانې، له تاریکو تورو سترګو
د ابد رڼایي غواړم، دا کیسه دې که تمامه

دوه قدمه دنیا ګوره، سره مخ شو سره بیل شو
دا پردې ځوړنده بنې دې، له یو ګامه تر بل ګامه

د دې ګردې دایرې راز را معلوم دی، ته یې اورې؟!
په دې ګرده دایره کې، ژندګي پر مور حرامه

ژماني ډېره مننه، ډېر خواږه دې ژهرجن کړل
ستا خندا سخته په غوږ مې، د رقیب تر بده سامه*

کابل، ۱۲/۷/۲۰۲۲ ـ ۲:۵۹pm

*سام هغه ویدي منتر و چې پخوانیو زمانو کې به د جنګ پر مهال غږول کېده. بل سام د نوح د نوح علیه السلام د زوی نوم هم دی؛ خو دلته یې لومړنی معنا را اخیستل شوې!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ